احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونيزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

الهی فرمان

او [illegible] ونيسي شيطان دوست بې له الله نو په تحقيق ښکاره زيان يې وکړ، وعده کوي (شيطان) له دوی سره او [illegible] باطلو امېدونو کې يې غورځوي. او نه کوي وعده له دوی سره شيطان مگر په فريب، ځای ددوی جهنم دی او [illegible] به مومي دوی (شيطان تابعان) له دې دوزخه د تېښتې هيڅ ځای. (سورة النساء: ۱۱۹ - ۱۲۱)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

دوه وږي ليوان د وزو يوې رمې ته دومره نقصان نشي رسولی څومره چې د مال حرص او حسد د مسلمان دين ته نقصان رسوي، حسد د مسلمان نيکی داسې له منځه وړي لکه چې اور لرگي له منځه وړي. (ترغيب)

شهادت دويم کال، ۷۵ مه گڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د وږی ۳۱ مه د۱۴۳۱ هـ ق د شوال المکرم ۱۳ مه د۲۰۱۰ م د سپتمبر ۲۲ مه

نه پوهېږم چې امريکا په افغانستان کې بريالۍ ده او کنه ده "پاول"

تاند ويب پاڼه:
د امريکا د پوځ يو پخوانی جگپوړی مقام کولن پاول چې د جورج ډبليوبوش د حکومت په لومړۍ دوره کې د بهرنيوچارو وزير وو، وايي ،دی نه پوهېږي چې امريکا په افغانستان کې د جگړې د گټلو په حال کې ده او کنه ده.
پاول وويل، سره له دې چې امريکايي جنرالان نويو سيمو ته د پرمختگ ادعا کوي ،خو سخته ده چې وويل شي طالبان په رښتيا مات شوي او يا له يوې سيمې بلې ته ځي.
پاول،چې يو وخت د امريکا لوی درستيز هم و، په افغانستان کې د امريکايي پوځيانو د شمېر د درې برابره زياتولو په باب د ولسمشربارک اوباما ستراتيژي تاييد کړه خو د ولسمشرحامد کرزي حکومت يې د پوځي هلوځلو کمزور ټکی وباله.

پاتی ۳ مخ

د الوتکې سقوط ۹ بهرني عسکر ووژل

تاند ويب پاڼه:
د ايساف ځواکونو د يوې څرخي الوتکې د سقوط په نتيجه کې ۹ تنه بهرني عسکر ووژل شول. د دغو ځواکونو له لوري دغه خبر په يوه اعلاميه کې تاييد شوی، د پېښې ځای او د وژل شويو عسکرو پوره هويت نه دی ښکاره شوی.
بل لوري ته په اعلاميه کې ويل شوي چې په پېښه کې د ايساف دوه عسکر، يو افغان سرتېری او يو ملکي امريکايي تبعه د پېښې په نتيجه کې ټپيان دي، چې ټپيان د ايساف يوه نژدې روغتون ته انتقال شوي او درملنه يې روانه ده.
ايساف گومان نه کوي چې دغه الوتکه يې د وسلوالو په حمله کې غورځېدلې وي او وايي په دې اړه يې جدي تحقيقات پيل کړي دي.
په دې توگه په روان ميلادي کال کې د وژل شويو بهرنيو سرتېرو شمېر ۵۲۹ ته لوړ شو. حال دا چې تېر ميلادي کال يعنې ۲۰۰۹ کې د وژل شويو بهرنيو عسکرو شمېر ۵۲۱ و. له ۲۰۰۱م کال راهيسې چې امريکا پر افغانستان حمله کړې، د وژل شويو بهرنيو سرتېرو شمېر ۲۰۹۷ ته پورته شوی دی.

بريتانويانو د سنگين ولسوالۍ مسؤوليت امريکايانو ته وسپاره

تاند ويب پاڼه:
د بريتانيا د دفاع وزارت نن تاييد کړه چې بريتانوي پوځيانو د هلمند د سنگين ولسوالی مسووليت يې امريکايي پوځيانو ته وسپاره. ايساف اعلان کړه چې د سنگين ولسوالی مسووليت يې امريکايي پوځيانو ته وسپارل شو.
په سنگين کې بريتانوي پوځيان له زياتو بريدونو او ستونزو سره مخامخ وو، چې په دې سيمه او شا خوا ساحو کې د ۱۰۰ بريتانويانو د وژنې راپور ورکړل شوی دی، چې د دوی يو په دريمه برخه تلفات جوړوي.
بريتانوي پوځيان دې سيمې ته په ۲۰۰۶م کال کې ورغلل. تر دې وروسته به بريتانوي پوځيان د دې ولايت په مرکزي سيمو کې د امنيت ساتنې مسووليت واخلي، که څه هم ايساف په يوه اعلاميه کې ويلي چې په تېرو

پاتی ٤ مخ

اسلام مبارزه میکند

صفحه دوم

چارواکي ولې ناکام دي؟!

دريم مخ

سخنگوی کمیسیون رسیدگي به شکایات در گفت‌وگو با فارس:

۱۷۰۰ مورد تخلف به کمیسیون انتخابات افغانستان گزارش شده است

احمد ضیاء رفعت سخنگوی کمیسیون رسیدگی به شکایات انتخاباتی

خبرگزاري فارس:
سخنگوي کميسيون رسيدگي به شکايات انتخاباتي از دريافت ۷۰۲ مورد شکايت کتبي و بيش از هزار مورد شکايت شفاهي به دفتر اين کميسيون خبر داد.
"احمدضيا رفعت " در گفت‌وگو با خبرنگار خبرگزاري فارس در کابل، با اشاره به دريافت بيش از ۱۷۰۰ مورد شکايت طی ۲ روز گذشته اظهار داشت: ولايات نيمروز، باميان و جوزجان داراي کمترين گزارش تخلف و ولايت لغمان بيشترين آمار دريافت شکايت را به خود اختصاص داده است.
رفعت در خصوص تخطي‌هاي صورت گرفته در برگزاري انتخابات پارلماني افغانستان بخصوص پاک شدن چند باره رنگ از ازگشتان راي دهندگان و راي مجدد آنان، خاطر نشان کرد: اين شکايت با بررسي ميزان کيفيت رنگ به کار برده شده به طور جدي مورد پيگيري قرار خواهد گرفت.
وي در مورد احتمال تخلف از سوي کانديدا يا کارمندان برگزاري انتخابات تصريح کرد: هنوز زود است که در اين مورد قضاوت شود اما به هر حال هر کانديدا تلاش مي کنند که براي خود راي بيشتري به دست آورد و در اين راه ممکن است به تقلب نيز دست زند.
سخنگوي کميسيون رسيدگي به شکايات انتخاباتي خاطر نشان کرد: اين احتمال وجود دارد که در پشت پرده تقلب احتمالي صورت گرفته، برخي از کانديداها قرار داشته باشند و به عنوان عاملي تحريک کننده دست به اعمال تخطي از قانون انتخابات زده باشند.
رفعت تاکيد کرد: تقلب‌هاي احتمالي بر روي

بقيه در صفحه ۴

افغانستان د نړۍ والو رسنيو په هنداره کې

د گارډين او انډيپنډنټ نړېوالو ورځپاڼو مقالې او تحليلونه د افغانستان د ولسي جرگې په انتخاباتو څرخې او څينې راپورونه يې خپاره کړي چې لنډيز يې دلته برابر شوی تاسو يې لوستو ته رابولو.

انډيپنډنټ:
د انډيپنډنټ ورځپاڼې په افغانستان کې د حالاتو په اړه خپله وروستۍ کټه کې ليکي، انتخابات لا تر اوسه هم په لومړني مراحلو

پاتی ۴ مخ

افغان زوی:

د رايو د شمېرنې لومړني پايلې به د تلې په ۱۷مه اعلان شي

د انتخاباتو د خپلواک کميسيون د بهرنيو اړيکو رئيس فريد افغانزوی

آزادی راډيو:
په داسې حال کې چې، د افغانستان خلک او ولسي جرگې ته کانديدان د تېرې شنبې د ورځې د انتخاباتو نتايجو ته په صبري سره انتظار باسي، د انتخاباتو خپلواک کميسيون وايي چې، د رايو شمېرنه د هېواد په ټولو مرکزونو کې په چټکۍ سره پر مخ روانه ده

پاتی ٤ مخ

جنرال پټرايوس او د افغانستان پوځي ستراتيژي

رويټرز اژانس:
جنرال ډېوېډ پټراويس چې دا مهال په افغانستان کې د ناټو او امريکايي ځواکونو د عمومي قوماندان په توگه دنده ترسره کوي، ايا توانېدلی د امريکا د پوځي ستراتيژی په عملي کولو کې عمده رول ولري؟
په امريکا کې پرون د کانگرس څينو غړو وويل، په عراق کې د امريکايي قوماندان جنرال ډېوېډ پټرايوس له لوري د جگړې د لوري بدلولو ته په پام سره کانگرس دېته گوري- چې ورته تجربه په افغانستان کې عملي شي....

پاتی ٤ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

په افغانستان کې روانه جګړه څه وخت پای ته رسيدی شي

واقعي سوله هغه ده چې په هغې کې د سولې حقيقي ضرورتونه په نظر کې نيول شوي وي، هغه سوله، سوله نه شي بلل کيدای چې د سولې حقيقي او ضروري توکي پکې نه وي رعايت شوي.
يواځې هغه سوله دايمي رنګ خپلولې شي چې د سولې ټول شرايط پکې ځای پر ځای شوي وي.
هغه سوله دوام او پايښت نه لري چې تش په نامه ورته د سولې نوم ورکول شوي وي خو په منځ کې د سولې ضد او فاسدوونکي شرايطو ته ځای ورکول شوې وي.
رښتوني سوله هغه ده چې د اختلاف او جنګ له ټولو عواملو او سببونو څخه پاکه وي، داسې کوم خنډ او اغزی پکې نه وي پرېښودل شوې چې د سولې مخ ډب او جنګ ته لاره هواره کړي. د سولې دا واقعي شرطونه او ضرورتونه هله منځ ته راتلې شي چې سوله کوونکي لوري د زړه له تل نه د سولې اهميت ته تن کيږدي او په دې خبره قانع شي چې له واقعي سولې پرته امن نه شي راتلې.
ډېر افسوس چې موږ افغانانو د سولې واقعي اهميت او تعريف ته پاملرنه نه ده کړې او په دې مو ځان نه دی پوه کړې چې د سولې په مقدس لفظ کې ظلم، نا انصافي او دوکه نه شي ځائيدلې او که څوک پکې د خپلو ناروا شرايطو د ځای پر ځای کولو کوښښ وکړي نو هغه بيا د سولې مفهوم له منځه وړي.
هغه سوله هم څه عمر او پايښت نه لري چې د چا د کمزورتيا نه ناوړه استفاده وشي او پخپلو شرايطو سولې کولو ته اړ ويستل شي.
په انساني ټولنه کې چې هر چېرته د اختلافونو او جنګونو فضاء منځ ته راځي او په نتيجه کې انساني وينې بهيږي يو لورې يې خامخا تيری کوونکی او بل لوری يې دفاع کوونکی وي. ددوی دواړو ترمنځ واقعي او تلپاتې سوله هله راتلې شي چې تيري کوونکی له خپل تيری او ظلم څخه لاس په سر شي او مظلوم ته دهغه دحق ورکولو لپاره چمتو شي.
په افغانستان کې روانه جګړه او وينه بهيونه به هله پای ته رسيږي چې د يوې واقعي او رښتوني سولې اهميت د زړه له تل نه ومنل شي. د سولې هغه شرطونو او ضرورتونو ته په بشپړ اخلاص تن کيښودل شي چې د سولې د برياليتوب او بقا وړپورې تړل شوې ده.
په افغانستان کې روانه جګړه هله ختميدلې او پر ځای واقعي سوله راتلې شي چې له هر څه وړاندې اسلام، عقيده، استقلال، ملي يووالې او پخپله د افغانانو په خوښه د يو اسلامي حکومت د قيام پر خبره توافق وشي، ځکه چې دا د سولې له پاره هغه بنسټيز شرطونه دي چې د افغانانو مطلق اکثريت يې غواړي.
افغان اتل ولس چې د تاريخ په هره پړاو کې د خپلې سپېڅلې اسلامي عقيدې، استقلال او واحد افغانستان دفاع کړې او د هر يرغلګر په خلاف يې خپلې سينې ډال کړي دي دا هرګز نه شي زغملی چې دا هر څه يې په اوبو لاهو شي او د بل چا تر واکمنۍ لاندې د غلامۍ ژوند تير کړي. څرګنده خبره ده چې تر څو پورې د افغانانو استقلال، عقيده، فرهنګ او ملي يووالې تر ګواښ لاندې وي او دوی ته پوخ ضمانت نه وي ورکول شوې د جګړې اور نه شي مړ کيدلې.
ددې خبرې هيڅ امکان نشته چې د افغانستان قهرمان ولس د چا د زور او زر په وړاندې خپل سرونه ټيټ کړی او داسې سولې ته چمتو شي چې هغه اصلاً سوله نه بلکې زور ته تسليميدل وي.
د افغانستان وګړي په هغه صورت کې يو واقعي سولې ته رسيدلې شي چې له هر څه دمخه ټولې لورې په دې اصل اتفاق وکړي، چې د ټولو بهرنيانو هر ډول لاسوهنې لنډې او کلک تعهد وکړي چې افغانان پخپلو ټولو چارو کې د بل چا هيڅ ډول مداخلې نه مني. هيڅوک نه شي کولې چې خپلو سياسي موخو ته د رسيدو لپاره پر پرديو هېوادو اتکاء وکړي او دهغوی په مرستو اقتدار ته ورسيږي. که هر څه افغاني شي او د سولې افغاني لوری د بل چا فرمايشونو ته ځای ورنکړي نو له څه شک پرته په بشپړ ډاډ ويلې شوو چې داسې سوله حتمي نتيجه ورکوي او افغانان له ټولو جنجالونو او کړاوونو څخه خلاصون ترلاسه کولې شي.
تر ننه پورې چې څومره د سولې هلې ځلې شوي دي ددې د ټولو د ناکاميو يواځينی لامل همدا دی چې د سولې واقعي ضرورتونه او شرايط په نظر کې نه دي نيول شوي، صرف او صرف لفاظي شوي او د سولې په نوم خپلو هدفونو ته د رسيدو جادوګري شويدي.
د افغانستان کړيدلې ولس واقعي سولې ته ضرورت لري د سولې په نوم هغه خبرې اترې په کلکه ردوي چې اخلاص پکې نه وي او يواځې د ملت په سترګو کې خاوره اچوي. د افغانانو د غالب اکثريت غوښتنه داده چې د سولې خبرې اترې په اصولي او صادقانه توګه ترسره شي نه هسې نمايشي او غولوونکي، د افغانانو د صبر کاسه ډکه شويده نور ددغه روان حالت د زغملو توان نه لري که الله مکړه حالات همداسې پاتې شي نو د افغان د قهرمان ولس د قهر د سيلاب په وړاندې به هر څه لاهو شي او د اقتدار ايوانونه به ونړيږي ښه به دا وي چې د جنګ او جګړې شوقيان د ولس حساسيتونه او مجبوريتونه په نظر کې ونيسي او داسې سولې ته غاړه کيږدي چې په هغه کې د سولې ټولو ضرورتونو او واقعيتونو ته ځای ورکول شوې وي.

نوشته: سید قطب
ترجمه: عبدالرحمن فرقانی

اسلام مبارزه میکند

اسلام را می شناسید؟

آنهایکه که فکر می کنند مفکوره از مفکوره های که بشریت آنرا در طول تاریخ کهنش شناخته است می تواند در مقابل ظلم و بربریت و ستمگری با انواع مختلفش همچو اسلام مبارزه کند، و یا هم توان آنرا دارد که در پهلوی مظلومین و بیچاره گان همچو اسلام استاده شود، و یا هم می تواند به روی باغیان و ظالمان همچو اسلام آواز بلند کند...... یقینا که غلط فکر میکنند و به خطا رفته اند، اینها یا کسانی مغرض هستند، و یا هم از اسلام به طور کلی آگاهی ندآرند.

آنهایکه خویش را مسلمان می پندارند، سپس در برابر ظلم و ستم مبارزه نمیکنند، و از مظلومین دفاع نمیکنند، و به روی باغی و ظالم آواز خویش را بلند نمیکنند...... آنهایکه این طور برداشت کرده اند به خطا رفته اند، و یا هم منافق هستند، و یا از اسلام بیخبر اند .

علاوه برین ،اسلام در صمیم و تهدابش حرکتی تحرری است، که از ضمیر فرد آغاز گردیده و در محیط و گرداگرد جامعه خاتمه می یابد. وقتی اسلام قلب انسان را زندگی بخشد و آنرا پرورش دهد، سپس آنرا نمیگذارد تا به سلطانی در روی زمین تسلیم شود، بجز از سلطان یکتا و قهار که مالک همه هستی است.

وقتی اسلام قلب انسان را پرورش دهد و آنرا زندگی بخشد، سپس آنرا نمیگذارد تا در برابر ظلم و ستم با تمامی اشکالش که دامن گیر جامعه میشود خاموشی و سکوت اختیار کند، خواه این ظلم بالای خودش صورت گیرد و یا هم بالای هر جماعت انسانی دیگر در روی زمین و در قلمرو هر پادشاه که واقع شود .

اگر دیدید که ظلم و ستم صورت میگیرد، اگر شنیدید که مظلومین فغان دارند، سپس مشاهده کردید که امت اسلامی در برابر این ظلم و ناروا که دامن گیر جامعه شده کاری انجام نمیدهد و یا هم در پهلوی آن مظلومین استاده نمیشود، و از آنها دفاع نمیکند، پس بر شما ست تا در مورد وجود امت اسلامی به دیدهء شک بنگرید، زیرا که ممکن نیست تا قلب ها اسلام را چون عقیده بپزیرد، در حالیکه شریعت محبوس باشد، و ظلم همچو قانون پیآده شود.

یا اسلام حقیقی پزیرفته شود و یا اسلام به نام ...... اسلام حقیقی عبارت است از مبارزهء که خاموش نمیگردد، و جهادیست که قطع نمیگردد ، و شهادتیست در راه تحقق عدالت و مساوات در جامعه.

اما اسلام به نام عبارت است از خواندن و گردان دعاها، و انداختن تسبیح، و نوشتن تعویزها، و توکل برین که آسمان صلاح و آزادی و عدالت و خیرات را بر زمین بیآرد.

هرگز آسمان ازین قبیل چیزها را بر زمین نمیآرد، خداوند هرگز قومی را نصرت و کمک نمیکند تا آنها خود خویش را کمک نکنند، و بالای خویش اعتماد نداشته باشند ، و شریعت را در جهاد و مبارزه پیآده و نافذ نکنند:

((إِنَّ اللَّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ))

اسلام دین انقلابی است

اسلام عقیدهء انقلابی و حرکتی است، به عبارت دیگر عقیدهء است که هر گاه در قلب انسان بصورت صحیح جاگزین گردد در آن انقلاب برپا میکند، انقلاب در تصورها، انقلاب در احساسات، انقلاب در چگونگی زندگي، انقلاب در داد و گرفت بین افراد و جماعت ها ...... انقلابیکه به اساس عدالت و مساوات مطلق در بین همه انسان ها برپا شود، وهیچکس بهتر از کسی نمیباشد بجز از معیار تقوی و پرهیزگاري، انقلابی که به اساس کرامت انسانی برپا شود، آن کرامتیکه به هیچ مخلوقی در روی زمین داده نشده است، کرامتیکه ارزش های والای را به انسان عنایت فرموده است. انقلابیکه به اساس عدالت مطلق برپا شود، عدالتیکه بغاوت هیچکس را تحمل نمیکند، و همچنان بالای هیچکس بغاوت نمیکند.

همینکه گرمی و جوش این عقیده را کسی احساس کند بیدریغ پی تحقق آن در زندگی عملی خویش میگردد، صبر و آرامش و خاموشی خود را از دست میدهد تا اینکه آنرا بدست بیآورد ...... اینست تاویل وتفسیر اینکه چرا اسلام یک حرکت انقلابی است

آنهایکه به حقانیت خداوند جل جلاله ایمان آورده اند، آنها در راه خداوند جل جلاله به حق جهاد میکنند، آنها جهاد میکنند تا کلمه خداوند جل جلاله والاتر از همه کلمه ها باشد، و کلمه خداوند جل جلاله تا وقتی تحقق پذیر نمیگردد. تا وقتیکه ظلم و ستم از جامعه برداشته نشود، و همه انسانها همچو دندانهای شانه یکسان نباشند، و کسی هم بالای کسی بهتر و برتر نمیباشد مگر فقط به اساس تقوی و پرهیزگاری.

آنهایکه ظلم را در چار اطراف خویش مشاهده میکنند، و آنهایکه با بغاوت هر جا روبرو میشوند، سپس نه دست شان و نه هم زبان شان حرکت میکند، در حالیکه قادر به حرکت دادن زبان و دست باشند اینها در حقیقیت به قلبهای شان اسلام راه نیافته، و به عبارت دیگر قلب



های شان را اسلام پرورش نداده است و به آنها زندگی نبخشیده است. اگر این قلب ها را اسلام آباد مینمود حتما به مبارزه و جهاد می پرداختند، اگر در این قلب ها این شعله مقدس میدمید حتما آنرا شعله ور ساخته با گرمی و جوش به طرف معرکه می کشانید.

اگر روح قومیت می تواند ما را به مبارزه در برابر استعمار باغی بکشاند.

اگر روح حریت و آزادی فردی می تواند ما را به مبارزه در برابر بغاوت و ستمگری بکشاند.

اگر روح اجتماعی می تواند ما را به مبارزه در برابر طبقات فاجر و فاسق و امپریالیزم بکشاند.

پس روح اسلام استعمار و زندگی طبقاتی فسق و فجور وستمگری را زیر عنوان بغاوت جمع نموده ما را به مبارزه با همه ء اینها می کشاند ، تا در برابر این همه بدون بزدلی خوف و بدون تفرقه و تشتت و جدال مبارزه کنیم، و همین خصوصیت بزرگ اسلام در میدان مبارزهء بشری در راه تحقق عدالت و مساوات و آزادی و کرامت انسانی است.

خاین به دین قبل از خاین ملی

شاید مسلمان وجود نداشته باشد که به قلبش روح ایمان جا گزین گردیده باشد و دست خویش را به استعمار و استعمارگرایان دراز کند، و یا هم با ایشان همکاری کند، و از مبارزه در برابر ایشان بطوری آشکار یا خفیه دست بردارد، اگر چنین باشد وی خاین به دین خویش است قبل ازینکه خاین به وطن و قوم و شرف خویش باشد. هر کسیکه احساس عداوت و دشمنی را در مقابل مستعمرین از دست داده باشد، و در برابریشان از مبارزه بقدر قدرت و اسطتاعتش دست بردارد خاین است.

واي به حال آنهایکه بایشان معاهده های دوستی امضا میکنند، و به حال آنهایکه بایشان پیمان میبندند، و به حال آنهایکه بایشان همکاری و کمک میکند، و به حال آنهایکه بریشان طعام می دهند در حالیکه قومش از گرسنگی جان می دهد، و به حال آنهایکه عیب ها شانرا می پوشاند.

شاید مسلمانی وجود نداشته باشد که به قلبش روح ایمان راه یافته باشد و بگذارد که گروه های فاجر و فاسق باغی در اطمینان و آرمش به سر برند، و عیب های آنها را ازگشت نما نکند، و پست فطرتی آنها را هویدا نسازد، و بر روی سیاه آنها آواز بلند نکند، و در برابرشان توسط دست و زبان به اندازه قدرت و استطاعتش مبارزه نکند....

هر لحظهء که بدون کار مثمر میگذرد و هر ساعتیکه بدون مبارزه میگزرد و هر روزیکه بدون جهاد میگزرد گناهی است که ضمیر مسلمان آنرا احساس کرده میتواند، و عذابیست که احساسات وی را دگرگون می نماید، و اشتباهی است که بدون جهاد و مبارزه عذاب و پریشانی آن جبران گردیده نمیتواند.

شاید مسلمانی وجود نداشته باشد که به قلبش روح ایمان راه یافته باشد و بگذارد که ظلم و ستم دامن گیر جامعه گردد، و مردم به غلامی کشانیده شوند در حالیکه مادر هایشان آنهارا آزاد به دنیا آورده اند، و

بقیه در صفحه ۳

محمد خلیل

چارواکي ولې ناکام دي؟!

د لوی الله جل جلاله دا لارښوونه څومره په زړه پورې او قیمتي ده چې امانتونه دهغوی اهل کسانو ته وسپارئ. که موږ د الله جل جلاله پر دغه لارښوونه دقیق فکر وکړو نو دې نتیجې ته رسیږو چې کوم کار او کسب دهغه اهل ته ونه سپارل شي هغه هیڅ راز گټه نشي ورکولې.

لوی الله جل جلاله د کارونو د سمون او د گټې لپاره د جوگه کولو په خاطر هر کار او هر فن له پاره خپل خپل سړي پیدا کړي دي. که څوک د آهنگري کار په ترکاڼ باندې وکړي او یا هم کمپیوټر ته ډریور کینوي نو څرگنده خبره ده چې له سترړیا پرته هیڅ کار نشي کولې.

د حکومت د مشرۍ، عدالت، امنیت، زراعت، صحت، اقتصاد، تجارت، ادب، سیاست او داسې نورو ټولو کارونو لپاره لوی الله جل جلاله خپل خپل سړي او اشخاص پیدا کړي دي.

څرگنده خبره ده چې د ژوند په ټولو څانگو کې هله پرمختگ کیدلې شي چې په تمامه معنی هر یو کار دهغه اهل شخص ته وسپارل شي که چېرته دغه اصل په نظر کې ونه نیول شي او هر یو کار دهغه اهل شخص ته ونه سپارل شي نو نتیجه به یې خامخا منفي او بې گټې وي.

د نړۍ هر هېواد چې دغه اصل رعایت کړی او کار یې خپل اهلکار ته ورسپارلی دی هغوی د ژوند په هر ډگر کې په زړه پورې پرمختگ کړې او خپلې ټولې اړتیاوې پوره کړې دي. دهغوی د بریالیتوب ټول راز په همدې کې رانغښتل شوی چې په دغه ستر امانت کې له خیانت نه ډډه کړی.

له بده مرغه په افغانستان کې له لومړی ورځې نه دغه اصل ته هیڅ پاملرنه نه ده شوې، کار اهلکار ته نه دې سپارل شوې په دین نه پوهیږي خو پر خلکو د کفر او اسلام ټاپې لگوي، سیاست پوه نه دی خو د سیاست په گدۍ ناست دی، د اقتصاد په الف با نه پوهیږي خو ځان ته اقتصاد پوه وای، د وکالت په مفهوم او معنی نه پوهیږي مگر د وکالت لپاره ځان کاندیدوي حقوق پوه او قضاوت پوه نه دی خو د خلکو مرکې او جرگې کوي.

د یو قوم او ملت د مشرتابه اوصاف او علمیت په ځان کې نه لري مگر د مشرۍ لپاره بلهی وهلي دي. د دفتر په کارونو نه پوهیږي مگر مدیر او رئیس په توگه دنده اجرا کوي، املا یې صحیح نه ده مگر د ماموریت پر څوکۍ ناست دی. لنډه دا چې زموږ حکومتي نظام او اداري ډانچه بالکل گډه وډه ده، کار اهلکار ته نه دی سپارل شوی او که چېرته ځینو ته سپارل شوی هم دی نو د تقوی، ایمانداري، دیانتداری او د مسؤولیت له احساس نه خالی دی او د کارغانو په څیر ایله د خپلو گیډو د مړولو په کوښښ کې دي. څوک نشته چې پوښتنه وکړي، دهغوی د کارونو جاج واخلي او نگراني یې وکړي. د تقلب او تخلف په صورت کې ورته سخته سزا ورکړي، جرمانه یې کړي او له دندې گوښه کړي د ښاغلی کرزي صیب په حکومت کې چې کوم درغلي، بډه اخستنه او بد دیانتي روانه ده ساری یې نه تر سترگو کیږي. هر څوک په چور او تالان لگیا دی، بډه اخستنه، تقلب، بی ایمانی او بد دیانتي اوج ته رسیدلی دی، قانون او د قانون احترام له سره نشته، د رشوت خورو او درغلي کوونکو ټولی په مزو او چړچو کې دي او په دواړو لاسو خلک لوټوي، همدغو بې بنده باریو له حکومت څخه د خلکو باور ختم کړی او هر څوک دا اټکیري چې په افغانستان کې یو قانوني او مسؤولیت پیژندونکی چارواکی نشته د نړۍ اخبارونه، راډیو او تلویزیونونه هره ورځ د افغان حکومت د اداري فساد او درغلی راپورونه خپروي.

ټول ملت د حکومتي چارواکو له غیر قانوني او غیر اخلاقي چال چلند څخه سر ټکوي او په چیغو، چیغو ترینه غوښتنه کوي چې خدای ته وگورئ نور د بې کفایتۍ او بې مسؤولیتي له دې ډند نه ووځئ، خپل اسلامي، ایماني او افغاني مسؤولیت ترسره کړئ د ټولو کائناتو خالق او مالک ذات په دې لارښوونه چې کارونه اهلکار ته وسپارئ جدي عمل وکړئ، له قانون، ملت او خاوری سره جفا مه کوئ پخپلو دندو او امانتونو کې خیانت مه کوئ د قهرمان ولس په ټېونو مالگه مرچکې مه دوړوئ، خپلو نفساني غوښتنو ته پر اسلام، هېواد، استقلال او ولس ترجیح مه ورکوئ، د الله قهر او غضب ته بلنه مه ورکوئ د بني اسرائیلو په څیر خپلو گناهونو ته تاویلات او حیلې مه جوړوئ، ددې له ناوړه انجام نه وویریږئ.

تاریخ گواه ده چې هر چا له قانون ملت او خاوری سره تېگي کړی هغوی له بدو عواقبو سره مخامخ شویدي، ستاسې لاقانونیت او سرکشي انتها ته رسیدلې دی، ولس ستاسی له دې غفلت او جفا نه تر پوزې راغلې نور ستاسی د وجود برداشت نه لري، له هغه چارواکو سره د الله تعالی هیڅ ډول مرسته نه وي چې هغوی قانون او اخلاق پښو لاندې کوي، د رعیت د خدمت پر ځای دهغوی حقوق ضایع کوي. د محمد صلی الله علیه وسلم د مبارک حدیث په مطابق پر هغو چارواکو د الله تعالی لعنت دی چې رعیت ترینه خپه وي.

خدای ته وگورئ نور د گناه له ډند نه ووځئ، د خپل رب په حضور کې د اخلاص توبه وباسئ د مشرۍ ټوله هغه اوصاف په ځانو کې پیدا کړئ چې الله او دهغه رسول بیان کړي دي، محمد صلی الله علیه وسلم او راشده خلفاء خپل مقتدی او لارښود ونیسئ، دهغوی په نقش قدم روان شئ خپل اسلام او ایمان د عمل په ډگر کې ثابت کړئ، خپل ولس په دې قانع کړئ چې تاسې په واقعي معنی د اسلام ددین، استقلال خاورې او ملت خدمتگاران یئ، لدې پرته تاسې نه د بری چانس لرئ او نه هم د نجات.

له داسې ذلت سره به مخامخ کیږئ چې د تاریخ پاڼې به کله هم نشي هیرولې.

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله "کامه وال"

پخوانی نوم: ډاکتر ارتهر ایلسین ✱ اسلامی نوم: ډاکتر عبدالله

پخوانی مذهب: عیسویت ✱ د هېواد نوم: انگلستان

د قران کریم حقانیت له ډاکتر ارتهر نه ډاکتر عبدالله جوړ کړ

د ځمکې پر کُره د اوسیدونکو انسانانو له پاره قرآن کریم له یوې معجزې نه کم نه دی، پخپل افاقي او عالمگیر پیغام کې چې قرآن کریم د انسان د ژوند په ټولو څانگو کې کومه لارښوونه کړیده د نني زمانې ساینسي پلټنو دا حقیقت څرگند کړی چې اوس ددې وخت رارسیدلې دی چې د قرآن کریم د علم او عرفان دغه اړخونه له اسلام نه منکرو وگړو په ځانگړې توگه ځوان نسل ته څرگند کړی شي، نو ځکه ددې خبرې ضرورت لیدل کیږي چې مسلمان علماء او پوهان په دې لاره کې بشپړې هلې ځلې په کار واچوي تر څو د اسلام د پرمختگ له پاره یو نوی باب پرانستل شي.

په گڼو ساینسي علومو کې چې څومره پرمختگ شوې دی قرآن کریم ددې نچوړ په مدلل انداز کې څوارلس کاله وړاندې پیش کړی دی. د جدیدو ساینسي علومو کارپوهان نه یواځې دا چې قرآن کریم د ساینسي علومو ماخذ گڼي بلکې په خپلو تجربو هم عملاً دا ثابتوي چې قرآن کریم واقعاً د ساینسي علومو ماخذ دی، په دې توگه ډېر ساینس پوهان د اسلام په دین مشرف کیږي او د گمراه نسل د مسلمانیدو لپاره هم سبب گرځي.

لاندینی مضمون د یو دوست جناب احمد سلام د یو لیک ژباړه ده.

دا کیسه د ډاکتر ارتهر ایلسین دی چې د تېرو شپږو کلو راهیسې د برټش د پیراسیکالوجي او روحاني تعلیماتو د اداري رئیس دی او د خپل دغه منصب له کبله یې د گڼو مذاهبو کتابونو د لوستلو فرصت ترلاسه کړ.

ډاکتر ارتهر، اروپا، امریکا او جاپان کې د پلټنې کارونه ترسره کوي گڼې تحقیقاتي متعالی یې لیکلی دي.

د قرآن کریم مطالعه دهغه په ژوند کې لوی انقلاب راوست، هغه هله حیران شو چې پر کوم موضوع د کلونو راهیسې پلټنې کوي قرآن کریم دهغه په اړه په څرگندو ټکو کې څوارلس سوه کاله وړاندې بیان کړي دي.

نه یواځې دا چې قرآن کریم دداسی پلټنو مخالفت کړی دی بلکې پخپله قرآن کریم ددې سرچشمه او ماخذ دی.

ډاکتر ارتهر د قرآن کریم د حقانیت او علمیت څخه دومره متاثر شو چې سمدلاسه یې اسلام ومانه او په مصر کې د ساینسی علومو پر موضوع کیدونکی کانفرانس کې د خپل مسلمانیدو اعلان وکړ. اوس دهغه اسلامي نوم ډاکتر عبدالله دی. هغه پخپل پیغام کې غربي ساینس پوهانو ته بلنه ورکړه چې هغوی د اسلام په عالمگیر صداقت ایمان راوړي چې د عقل، فکر، استدلال او ذهانت د سبق ورکولو ترڅنگ د جذباتو د تسکین او روحاني تندې د لرې کولو لپاره یوه ذریعه هم ده.

هغه اعلان وکړ چې د قرآن کریم له مطالعې دا ترلاسه کیږي چې قرآن کریم نه یواځې د ډېرو ساینسی او فني نظریاتو تائید کوي بلکې د جدید ساینس پلټنې هم نه ردوي.

ډاکتر عبدالله چې وړاندې عیسوي و د خپلو دغو خیالاتو څرگندونه په قاهره کې منعقد شوی په یوه کانفرانس کې کاو چې عنوان یې "د قرآن کریم طبعي معجزی" ډاکتر عبدالله په دې کانفرانس کې یوه تحقیقي مقاله هم ولوسته چې عنوان یې وو "د مرگ او خوب نژدی اړیکی" هغه په دغه موضوع کې پر انساني دماغ باندې د نوی زمانې په جدید مشینونو او آلاتو تجربې کړې دي چې د قرآن کریم پر حقانیت دلالت کوي.

هغه په دې خبره د خفگان څرگندونه وکړه چې ډېر خلک د قرآن کریم ساینسي اړخ په نظر کې نه نیسي، هغه زیاته کړه چې قرآن کریم له ساینس سره ټکر نه کوي بلکې دهغه تائید او توثیق کوي، که چېرته په کوم ځای کې داسې خبره تر سترگو شي چې قرآن کریم په ځینو شیانو کې له ساینس سره ټکر کوي نو دا د ساینس په ناقصوالی دلالت کوي، ځکه چې قرآن کریم د الله کتاب دی او په دې کې هیڅ راز نقصان نشته، دهغه افاقي عظمت پخپل ځای مسلم دی. هغه وایي چې مرگ او خوب دواړه یو څیز دی په قرآن کریم هم په دې اړه واضح الفاظ موجود دي چې خوب ته مرگ ویل شویدي. د الزمرد سورې په ۴۲ آیت کې ددې بشپړ وضاحت موجود دی.

هغه وایي موږ د ساینس تجربو نه وروسته دغې نتیجې ته رسیدلي یو چې کله کوم انسان ویده کیږي نو کوم څیز دهغه له بدن نه بیرون اوځي او کله چې بېرته دهغه بدن ته راځي نو له خوبه ویښیږي او که هغه ورته بېرته رانشي نو مړ کیږي، دا هغه نقطی دي چې په قرآن کریم کې په صراحت سره موجودی دي.

ډاکتر عبدالله زیاته کړه چې نور نظریات چې توهم پرستی نه علاوه پکې بل څه نشته په نورو هېوادو کې د سرایت په حالت کې دي، مسلمانانو ته پکار دي چې دهغوی د مخنیوی په خاطر د اسلام د ترویج او خپریدو لپاره بشپړ هلې ځلې وکړي هغه له غربي ساینس پوهانو او نورو علماو څخه غوښتنه وکړه چې د قرآن او اسلام مطالعه دی د ساینسي له نقطې نظره وکړي.

بقیه اسلام مبارزه میکند

مسلمان واقعی توسط مال و روح خویش دعوت خداوند یکتاه و رازق را لبیک میگوید و آنرا می پزیرد:

((وَمَا لَكُمْ لا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا))

فقط مسلمان شو ...

فقط مسلمان شو .. همین کافی است که مسلمان باشی تا اسلامت ترا با دلاوری و شجاعت به مبارزه در برابر استعمار و ظلم و ستم وا دارد، اگرچنین نیست پس باید احساس کنی که آیا قلبت در مورد حقیقت ایمان بازی نخورده است که ترا از مبارزه در مقابل استعمار باز میدارد؟

فقط مسلمان شو .. همین کافی است که مسلمان باشي، تا اسلامت ترا به مبارزه در برابر ظلم بربریت و ستم اجتماعی بکشاند، مبارزهء که دوامدار و مستمر باشد. اگر چنین نیست پس باید احساس کنی که آیا قلبت در مورد حقیقت ایمان بازی نخورده است، که ترا از مبارزه با ظلم و ستم باز میدارد؟

فقط مسلمان شو .. همین کافی است که مسلمان باشي، تا اسلامت ترا به مبارزه در برابر سرکشی و طغیان با همه دلیری و صلابت و پختگی بکشاند که بزدلان آنرا پسماندگی می پندارند، اگر چنین نکردی پس احساس کن که قلبت در حقیقت ایمانش بازی خورده است، ورنه چرا از مبارزه در برابرطغیان دست برداشته ای ؟

بالاخره اسلام مبارزه می کند

تمامی مفکوره ها و همه مذاهب در روی زمین پراگنده گردیده تا هر کدام برای خود میدان انتخاب کند که در آن میدان عدالت و مساوات و آزادی را تحقق بخشد ..مگر اسلام در همه این میدان ها مبارزه میکند، و همه حرکت های آزادی خواه راه در آغوش میگیرد، و برای همه این میدان ها مبارزین تربیه میکند.

وقتیکه صاحبان مفکوره ها و مذاهب قوتی خود را از قوت های زمین که نابود شدنی استند استمداد می جویند، اسلام از قوت اذلی و ابدی قوت خویش را بدست میآورد، مسلمانان وقتی به معرکه رومیآورند قلب هایشان پر از شوق شهادت در راه حق میباشد، تا حمایت آسمان و فلاح اخروی را بدست آورند:

((إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ))

با تشکر از سایت اصلاح آنلاین

نه پوهېږم چې امریکا په افغانستان ...

پاول وویل چې جنرالان د نور وخت غوښتونکي دي خو څرگنده نه ده چې ولسمشربارک اوباما به دوی ته نور وخت ورکړي او کنه.

د امریکا ولسمشرد تېر کال په وروستیو کې اعلان وکړ چې افغانستان ته دېرش زره اضافي سرتېري لیږي خو د ۲۰۱۱ کال په نیمایي کې به له دې هیواده د امریکایي پوځیانو په ایستلو پیل وکړي.

کولن پاول په دې مرکه کې په عین حال کې پر ایران د امریکا اواسراییلو له لوري د حملې احتمال رد کړ خو دا یې هم وویل چې پرایران د لوېدیځوالو بندیزونه به نتیجه ورنه کړي.

ده وویل ممکن امریکا بالاخره اتومي ایران ومني خو پرځای پر یې خپلې هلې ځلې دې ته متمرکزې کړي چې ایران اتوم بم جوړ نه کړي او له هغه څخه کار وانخلي.

شهادت اوونیزه

خپرووںکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانګه

د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال

مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

داړیکي شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

ډیزاین: خواجه وحیدالله

د کنټرولاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

روسیه از تشکیل پارلمان نو افغانستان حمایت میکند "وزارت خارجه"

خبرگزاری ریا نووستی:
مسکو از تشکیل ترکیب نو پارلمان افغانستان حمایت میکند و اماده است به انکشاف پروسه های دموکراتیک در این کشور، ثبات و ترقی اجتماعی - اقتصادی جامعه افغانی مساعدت نماید، این مطلب را دیپارتمنت اطلاعات و مطبوعات وزارت خارجه فدراسیون روسیه در روز دوشنبه خبر داده است.
در روز شنبه مورخ ۱۸ سپتمبر در جمهوری اسلامی افغانستان انتخابات ولسی جرگه پارلمان برگزار گردید. قرار معلومات کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان نتائیج نهایی انتخابات در اواخر ماه اکتوبر بعد از شمارش اراء و بررسی شکایات از طرف کمیسیون سمع شکایات و اعتراضات اعلان خواهند شد.
در اطلاعیه وزارت خارجه روسیه گفته شده: " در روسیه از تشکیل ترکیب نو پارلمان وحدت ملی در افغانستان که یکجا با شاخه های دیگر قدرت، رئیس جمهور جمهوری اسلامی افغانستان به تشکل افغانستان به مثابه دولت صلح امیز، مستقل و شگوفان مساعدت نماید، حمایت میکنند. فدراسیون روسیه اماده است در اینده نیز از مساعی حکومت جمهوری اسلامی افغانستان و جامعه بین المللی در باره توسعه پروسه های دموکراتیک، ثبات و بازسازی اقتصادی افغانستان حمایت نماید ".
در وزارت خارجه روسیه خاطرنشان ساخته که خود واقعیت برگزاری انتخابات در اوضاع پیچیده نظامی - سیاسی در افغانستان، باوجود تلاش های افراطیون جهت برهم زدن پروسه ماقبل انتخاباتی، " بدون شک دستاورد بزرگ حکومت و ادارات نظامی افغانستان محسوب میشود ".

با توافق وزرای نفت ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند؛

موافقتنامه احداث خط لوله گاز "تاپی" به امضا رسید



خبرگزاري فارس:
وزرای نفت و انرژی کشورهای ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند در پایان یازدهمین اجلاس کمیته کارگروه طرح خط لوله گاز موسوم به "تاپی"، موافقتنامه احداث این پروژه را امضا کردند.
به گزارش خبرنگار خبرگزاري فارس در عشق آباد، شرکت کنندگان اجلاس خط لوله گاز تاپي، ضمن امضاي موافقتنامه احداث خط لوله گاز با حضور نمایندگان بانک توسعه آسیا، پروتکل الحاقی قرارداد خرید و فروش گاز را نیز به امضا رساندند.
خبرگزاری رسمی ترکمنستان (TDH) روز سه‌شنبه در گزارشی ضمن اعلام این خبر تصریح کرد که یازدهمین اجلاس کمیته خط مشی طرح خط لوله گاز تاپی در عشق آباد در فضای کاملا سازنده برگزار و همه شرکت کنندگان در آن بر تسریع اجراي طرح مذکور و پیامدهاي مثبت آن در منطقه به ویژه فواید اقتصادي و رفاهی آن برای مردم کشورهای عضو، تاکید کردند.
این گزارش می‌افزاید: وزرای نفت و انرژی کشورهای ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند، نتایج ششمین اجلاس کارشناسان خط لوله انتقال گاز را مورد بحث و تبادل نظر قرار دادند.
شرکت کنندگان یازدهمین اجلاس کمیته کارگروه طرح خط لوله گاز، طرح تاپي را گامي مثبت و نتیجه بخش ارزیابي کرده و پیش نویس موافقتنامه بین دولت هاي ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند در مورد اجراي طرح خط لوله گاز تاپی را نیز بررسي کردند.
موافقتنامه اجراي طرح تاپي قرار است در نشست سران کشورهاي عضو این پروژه در دسامبر)آبان ماه(سال جاري در عشق آباد به امضا طرفین برسد.
"سید کمال " وزیر نفت پاکستان در پایان این اجلاس در مصاحبه با تلویزیون ملي ترکمنستان با مثبت ارزیابي کردن نشست مذکور، گفت: طرح خط لوله گاز تاپي یکي از طرح‌هاي مهم منطقه‌اي است که گاز ترکمنستان را به بزرگترین کشورهاي آسیایي منتقل مي کند.
وي تصریح کرد: اجراي این طرح فواید زیاد اقتصادي را در پي داشته و باعث حل و فصل مسائل مختلف اجتماعي و رونق شرایط معیشتی مردم منطقه خواهد شد.
"وحیدالله شهراني " وزیر معادن و صنایع افغانستان نیز در مصاحبه با برنامه خبری "وطن " تلویزیون ملی ترکمنستان تاکید کرد: طرح تاپي پروژه اي مهم در راستای تامین امنیت انرژی منطقه می‌باشد و نشان از اراده سیاسي و اجتماعي کشورهاي شرکت کننده در این طرح مي‌باشد.
وي اظهار اطمینان کرد که طرح خط لوله گاز تاپي هر چه سریعتر محقق شود و در پیشرفت و احیا کشور افغانستان نقشي بسزا داشته باشد.
دستاوردهاي نشست یازدهمین اجلاس خط مشي طرح خط لوله گاز، در نشست سران کشورهاي ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و نخست وزیر هند مورد بررسي قرار خواهد گرفت.
چندي پیش نیز رئیس جمهور ترکمنستان در جریان گفت‌وگوي تلفنی جداگانه با همتایان افغاني، پاکستاني و نخست وزیر هند، موافقت آنان را براي شرکت در اجلاس سران کشورهاي ذي‌نفع در اجراي خط لوله انتقال گاز تاپي در آذر ماه (دسامبر سال جاري میلادی) در عشق‌آباد جلب کرده بود.
مذاکرات احداث خط لوله انتقال گاز ترکمنستان - افغانستان - پاکستان هند از سال ۱۹۹۰ آغاز شده بود، ولي به دلیل ناامني‌هاي موجود در افغانستان، اجراي آن متوقف شد.

بریتانویانو د سنګین ولسوالۍ ...

څلورو کلونو کې بریتانوي پوځیانو په سنګین کې د پام وړ کارونه کړي، خو په سیمه کې ځایي خلک وایي چې په دې ولسوالۍ کې وضعیت له بده بدتره شوی او خلک یې زیات متاثره شوي دي.
د سیمې اوسېدونکي وایي، دوی هم له طالبانو په تنګ شوي او هم له بهرنیو ځواکونو څخه، دوی وایي په لومړي ځل دې ولسوالۍ ته په ۲۰۰۷م کال کې د موبایلونو اسانتیا وغزېده، خو څه وخت وروسته د طالبانو او بهرنیو ځواکونو ترمنځ د جګړو له کبله دغه اسانتیا هم بنده شوه.
تر دې مخکې هم بریتانوي پوځیان د هلمند له ځینو سیمو وتلي وو او مسوولیت یې امریکایانو ته سپارلي، په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې بریتانوي پوځیان په دې تورن شوي چې د مخدره موادو په قاچاق کې لاس لري.

۱۷۰۰ مورد تخلف به کمیسیون ...

کل انتخابات تاثیري نخواهند داشت اما مي‌تواند بعضي از مراکز راي دهي را تحت تاثیر قرار دهد.
وي اذعان کرد: کمیسیون رسیدگي به شکایات انتخاباتي، مراکز اخذ راي که احتمال تقلب در آن وجود دارد را به جدیت مورد بررسي قرار خواهد داد.
وي حضور بیش از چهار میلیون افغان به رغم تهدیدات فزاینده طالبان را آمار نسبتا خوبي براي شرکت مردم در انتخابات دانست و افزود: به رغم تهدیدات موجود و بي اعتمادي‌هایي که در روند برگزاري سالم انتخابات پیش آمده بود، تعداد شرکت کنندگان به نسبت انتخابات گذشته موفقیت بزرگي براي کشور افغانستان محسوب مي‌شود.
وي در پایان تاکید کرد که کمیسیون رسیدگي به شکایات انتخاباتي با دقت تخلفات گزارش شده را رصد و در برخورد با متخلفان با قاطعیت عمل خواهد نمود.

جنرال پټرایوس او د افغانستان ...

رویټرز اژانس لیکي، خو پټرایوس به څومره وخت ولري چې وښیي د دې جګړې بریالیتوب نامعلوم دی او په دې برخه کې خواشیني هم په پراخېدو ده، په خاص ډول د بارک اوباما په ډیموکرات ګوند کې.
په ډیسمبر کې د سپینې ماڼۍ له لوري د افغانستان د جګړې بیا کتنه کېږي، دبته ته په پام سره، د افغانستان د ۹ کلنې جګړې په برخه کې د امریکا له لوري نوې څېړنې او ارزونې کېږي.
د کانګرس غړو چې په واشنګټن کې د رویټرز له لوري په جوړه شوې غونډه کې خبرې کولې وویل، دوي په دې باور دي چې د پټرایوس اعتبار د اوباما ادارې ته تازه ساه ورکړه، خو د عراق جګړې ته په پام سره څینې انتقاد کوونکي وېره لري ښایي د افغانستان جګړه د ګټلو وړ نه وي.
یوه ډیموکرات هووارد برمن چې د کانګرس د بهرنیو چارو د کمېټې مشر دی وویل، پټرایوس ته د یوه با استعداده او ماهر پوځي مشر په سترګه کتل کېږي، د پټرایوس تر مشرۍ لاندې راتلونکې څو میاشتې به ډېرې مهمې وي.
څه کم درې میاشتې کېږي چې جنرال ډېوېډ پټرایوس په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو د عمومي قوماندان په توګه دنده پیل کړه.
د نوموړي پر ځای مخکې جنرال سټینلي مک کرېسټل دنده درلوده، چې په جون میاشت کې د ځینو څرګندونو له کبله له دندې ایسته شو.
د جمهوریت غوښتونکي ګوند غړي جان مکېن په افغانستان کې د پټرایوس ستراتیژي بریالۍ ګڼي او وایي فکر کوي، په ټوله کې دا یوه مناسبه ستراتیژي ده.
پټرایوس خبرداری ورکړی چې د افغانستان جګړه د عراق د جګړې په پرتله ببله ده او ځینې امریکایي پوځیان دا جګړه سخته بولي. خو ډیموکراتان او جمهوریت غوښتونکي له جنرال پټرایوس څخه د دې جګړې د بري لپاره زیاته تمه لري.
په واشنګټن کې د بروکینز انستیتوت یوه غړي مایکل او هانلون وویل، عمده پوښتنه دا ده چې د پوځي ستراتیژۍ د عملي کولو په برخه کې به ایا پټرایوس د مک کرېسټل په پرتله غوره وي؟ که هو، نو د جګړې د ډګر نتایج بیا دا ارزښت لري چې کانګرس یې انتظار وکړي.

د رایو د شمېرنې لومړني پایلې ...

او لومړني نتایج به یې په راتلونکو څه کم شلو ورځو کې اعلان شي.
د افغانستان د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون د بهرنیو اړیکو رئیس فرید افغانزی د دوشنبې په ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل چې، د رایو د شمېرنې فورمې چې د ولایتونو له مرکزونو څخه کابل ته را رسیږي، په پوره دقت سره به له اوو مرحلو څخه تېرې شي، ښاغلي افغانزی د رایو د شمېرنې د نتایجو په هکله زیاته کړه:
((فورمې چې له ولایتونو څخه مرکز ته راشي، اوه مرحلې به تېرې کړي بیا به یې اړونده اداره څارې او د رایو د شمېرنې ابتدایي نتایج به د میزان په اوه لسمه نېټه اعلان کړو.))
په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ له پای ته رسېدو وروسته، دا دوهم ځل دی چې، د ولسي جرګې انتخابات په کې ترسره کېږي.
رایي ورکوونکي او ولسي جرګې ته کاندیدان په انتخاباتو کې د جعلي کارټونو له کاروني او داسې نورو سرغړونو څخه اندېښمن دي.
خو د انتخاباتو خپلواک کمیسون وایي چې، د هېواد په مرکز او ولایتونو کې یې جعلي کارټونه، ((مخکې له دې چې وکاریږي)) نیولي او عاملین یې قانوني ادارو ته سپارلي دي.
د انتخاباتو خپلواک کمیسون دا هم وایي چې، په دې انتخاباتو کې داسې درغلۍ نه دي شوي چې، په مجموع کې دی د انتخاباتو مشروعیت ته ګوته ونیول شي.
د انتخاباتو د خپلواک کمیسون د بهرنیو اړیکو رییس دا هم وویل چې د رایو شمېرل، پرته له څو مرکزونو څخه، نور په ټول هېواد کې ترسره شوي دي،ده وویل:
((پرته له څو مواردو څخه چې په یو څو مرکزونو کې یې د رایو شمېرنه ځنډولې نور په ټول هېواد کې د رایي شمېر بشپړ شوی دی.))
د افغانستان د ولسي جرګې انتخابات د سنبلې د میاشتې په اوه ویشتمه ورځ په څه باندې پنځه زره مرکزونو کې ترسره شول، نړیوالې ټولنې او ملګرو ملتونو د یادو انتخاباتو هرکلی کړی دی.
د افغانستان د انتخاباتو خپلواک کمیسون وایي چې، انتخاباتو ته څه باندې لس میلیونو خلکو د رایو پاڼې اخیستې وې او کېدای شي چې، له څلورو میلیونو څخه زیاتو په کې ګډون کړي وي.

افغانستان د نړۍ والو رسنیو ...

کې دي څکه د رایو شمېرلو پروسه ښایي څه موده دوام وکړي.
هغه نښې چې په افغانستان کې د ولسي جرګې د دې دوهم وار انتخاباتو څخه څرګندېږي چې د ۵ کاله مخکې ولسي جرګې له انتخاباتو سره په مقایسه کې د ډېرې امیدواري وړ نه دي.
داسې معلومېږي چې په افغانستان کې له انتخاباتو سره د ډیموکراتیکو اصولو په برخه کې ډېر پرمختګ نه دې شوې.
انډیپنډنټ لیکي، د کابل په ګڼون له ډېرو انتخاباتي مرکزونو داسې رپوټونه خپاره شول چې د رایو مرکزونه تر ټاکلي وخت وروسته پرانیستل شول. یو په شپږو کې مرکزونه اصلا پرانیستل شوې نه وو.
د ګوتو لپاره رنګ چې په انتخاباتو کې کارول کېده په ډېرو سیمو کې بدل وخوت او داسې ادعاوې ورسره خپرې شوې چې ګواکې په ډېرو ځایونو کې خلکو له یوه وار څخه زیاتې رایې ورکړې دي.
د جعلي کارتونو، بډو او رایو د خرید او فروش رپوټونه هم ورکړل شوي دي. داسې هم ویل شوي چې د ښځو کاندیدانو له منځه زیاتره د یو شمېر زورواکانو لاس پوځې وې.
انډیپنډټ لیکي چې په انتخاباتو کې تشدد هم شوې دې. د یکشنبې په ورځ په بلخ کې د انتخاباتو د خپلواک کمیسون د درېیو تښتول شوېو کارکونکو جسدونه وموندل شول او له دې سره د انتخاباتو په ورځ د وژل شوېو شمېر اولس ته لوړ شو. د انتخاباتي کمپاینونو په مهال لږ تر لږه شل تنه چې څلور په کې کاندیدان وو وژل شول.

ګارډین:
د انتخاباتو په اړه بله ورځپاڼه ګارډین لیکي، د افغانستان د انتخاباتو بهرنیو څارونکو خبرداري ورکړې چې د ټاکنو په جریان کې د پراخو درغلیو شوې ادعاوې دا ښکاره کوي چې د انتخاباتو د نتایجو څرګندېدل به میاشتې وخت ونیسي څکه د انتخاباتو د کمیسون کارکونکي باید ټول شکایتونه او ادعاوې وګوري او وېې څېړي.
د نړېوالې ټولنې دا هیله وه چې د انتخاباتو د څارنې د پیاوړي او خپلواک کمیسون په موجودیت کې به شفاف انتخابات ترسره شي د دوشنبې په ورځ رپوټونو ښکاره کړه چې تر ډېره حده هغه تخطي بیا تکرار شوې چې د تېر کال د جمهوري ریاست د ټاکنو په وخت شوې وې.
په افغانستان کې د ازادو او عادلانه انتخاباتو بنیاد فیفا ګارډین ته ویلي چې کارکونکو یې داسې پېښې ثبت کړې چې د ځیني کسانو په ګټه صندوقونه ډک شوي او په ځیني ځایونو کې د کم عمرلرونکو کسانو رایې ورکړې دي.
د رایې ورکولو د پروسې په پای کې د فیفا چارواکو وویل چې د ټاکنو د کیفیت په اړه شدیده اندېښنه لري.